سال ششم شماره دوم
شماره مسلسل ۸۸۳
یکشنبه ۲۹ عقرب ۱۳۸۴ هش
۱۹ شوال المکرم ۱۴۲۶ ه ق
20 November, 2005

DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

آغاز هفته حسابدهی دولت

دولت هفت روز آینده، از شنبه ۱۹ نوامبر را، 'هفته حسابدهی' وزیران کابینه این کشور نامگذاری کرده است. در این هفته تمامی وزیران دولت از طریق رسانه های دولتی این کشور به عملکرد یک سال گذشته خود خواهند پرداخت.

کریم رحیمی، سخنگوی ریاست جمهوری در آغاز این هفته به خبرنگاران در کابل گفت که چنین اقدامی در تاریخ سابقه کشور نداشته است.

تاکید دولت به حسابدهی، در آستانه تشکیل پارلمان این کشور صورت می گیرد. حسابگیری از دولت، در خط مشی انتخاباتی بیشتر نامزدهای انتخابات پارلمانی بوده است که اکنون وارد پارلمان شده اند ص٤



کنفرانس بین المللی حمایت از دولت افغانستان

کنفرانس بین المللی روی حمایت بازسازی افغانستان در کشور انگلستان برگذار خواهد شد در این کنفرانس بین المللی که سازمان ملل متحد و بریتانیا روسأی مشترک آن خواهند بود در حالی تشکیل میشود که نخستین دولت برگزیده افغانستان رویا روی یا مجمع بزرگ از مسایل سیاسی اقتصادی و امنیتی را آغاز می کند سفیر انگلستان در سازمان ملل متحد گفت هدف از این کنفرانس که در لندن تشکیل میشود این است که حمایت بین المللی از دولت جدید افغانستان که در یک مرحله حساس قرار دارد بدست آید او گفت ریاست کنفرانس را که در روزهای ۲۹ و ۳۰ جنوری سال ۲۰۰۶ تشکیل میشود کوفی عنان سرمنشی ملل متحد، تونی بلیر، صدراعظم بریتانیا برعهده خواهند داشت و حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان از جمله شرکت کنندگان در این کنفرانس خواهد بود. انتخابات پارلمانی افغانستان آخرین قدمی رسمی بسوی تشکیل یک دولت فراگیر در کشور پس از ۲۵ سال جنگ که پش از یک ونیم میلیون کشته بجا گذاشت بود ماه آینده زمانیکه پارلمان افغانستان افتتاح شود روند انتقال سیاسی که جناحهای گوناگون افغانستان که تحت نظر سازمان ملل متحد در کنفرانس بن در دستامبر ۲۰۰۱ موافقت کردند به پایان خواهد رسید. ص۴

په راتلونکی کال کې دائتلافي ځواکونو په شمیر کې کموالی

د جمهور رئیس ویاند پرون په بوې خبری غونډه کې وویل چې په راتلونکی کال کې به چې یوازې دوه میاشتې ورته پاتې دی په هیواد کې دملیشو ائتلافي ځواکونو شمیر راکم کړای شي کریم رحیمی زیاته کړه چې په دغه هکله ولسمشر حامد کرزی به اتریش کې خبرې کړې دی رحیمی وړاندې وویل دامریکا تر مشری لاندې دائتلافي ځواکونو پر ځای به دناتو ځواکونه ځای پر ځای شي اوس مهال په هیواد کې دامریکا تر مشری لاندې دائتلافي ځواکونو یوویشت زره سرتیری دالقاعده شبکې او دطالبانو دپاتې شونو پر ضد مبارزه کوی خو افغان چارواکو تر اوسه نه ده څرګنده کړې چې دائتلافي ځواکونو په شمیر کې به په کومه کچه کموالی راشي.

سرمقاله

[illegible]

زموږ د تعلیمی بهیر کیفي سطحه ولې مخ کښته روانه ده؟

دیوې ټولنې لپاره چې هم دنړۍ له پرمختیایی بهیر څخه دبیلابیلو لاملونو له امله وروسته پاتې وی او هم د خو لسیزو اوږدو تپل شوو جګړو ځپلې وی باید دژوندانه په ټولو خواوو کې بیا جوړول د کارونو په سر کې ځای ولري. خو د داسې جوړونو په سر کې باید تعلیمی بیا جوړول شامل وي.

زموږ په هیواد کې دتیرو جګړو په بهیر کې تر هر څه دمخه زموږ تعلیمی سیستم ته زیات ټکانونه ورکړل شول او له نابودی سره یې مخامخ کړی دی دطالبانو په وخت کې په نسبی توګه په ښو ودریدلی ښوونه او روزنه بیا له خنډونو سره مخامخ شوه اوس چې په هیواد کې تعلیمی بیا جوړونه پیل شوې ده او څه دپاسه ۶ میلیونه زده کوونکی دښوونځیو په لورې روان دی دبیلابیلو لاملونو له امله دکیفي او کمی سطحې ترمنځ ګراف واټن پیدا کوی دهرې ورځې په تیریدو سره زموږ کیفي سطحه په تعلیمی مرکزونو کې تر پرون وروسته پاتې کیږي په ښوونځیو کې ددرسې وسایلو نشتوالی، ښوونو کم والی، دښوونکو کمبود، له پرون څخه راپاتې زړه تعلیمی لایحه چې دوخت غوښتنو ته ځواب نشي ورکولی او په ټولګیو کې دلایحې په خلاف دزده کوونکو زیاتوالی په جعلی اسنادو دغیر حاضرانو دتصدیقونو جوړول او معامله کول او دټولو په سر کې د ښوونکو له خوا زده کوونکو سخاوتمندانه نومرې ورکول او لوړول دا او داسې نور علتونه په مجموع کې ددې سبب شوې چې په ښوونځیو کې کیفي سطحه ټیټه او هر کال په زرګونو بې سواده شاګردان ټولنې ته وړاندې کړو چې په هیڅ صورت دکورنی او ټولنې په درد نه خوړل کیږي.

خو دکیفي سطحې په ټیټوالی کې تر هرڅه لومړی ګوته اړوندو ښوونکو ته نیول کیږي چې کابو ۸۰ فیصده ښوونکی دزده کوونکو تر ارزیابی دمخه د ځانونو ارزیابی نه کوی چې څومره یې خپلې دندې سمې سرته رسولی دی؟ داسې ښوونکی لرو چې دازموینو په وخت کې دهیواد او ټولنې د پرمختګ اهداف په پام کې نه نیسي په ازموینو کې سخاوتمندانه لاس پیدا! کول او په خپل سخاوتمندانه لاس نمرې ورکول ددې سبب شوی چې بې سواده ځوانان ټولنې ته وړاندې کړو. اوس چې دهیواد په سرو سیمو کې کلنی ازموینې پیل کیږي او زیات زده کوونکی دښوونکو دخیراتی نمرو په هیله دی لازمه ده چې زموږ ښوونکی یو ځل بیا د ټولنې په وړاندې خپل رسالت او مسوولیت درک کړی یوازې هغه زده کوونکی د کامیابی چانس تر لاسه کړي چې وړتیا یې ولري.

دښوونې او روزنې وزارت اړونده اداري باید ښوونځیو کې دسخاوتمندانه لاسونو په مخنیوی کې څارنې او کنترول ته دخپلو کارونو په سر کې ځای ورکړی څو وکړای شو چې د پوهنتون لپاره وړ ځوانان وروزنه کړو. چې دهیواد په ودانولو کې خپله وړتیا ترلاسه او خپل مسوولیت درک کړي.

په هلمند کې دپولیسو او قاچاقبرانو ترمنځ نښته

دهلمند په ولایت کې دافغان امنیتی پولیسو او مخدره موادو د قاچاقبرانو ترمنځ نښته شوې ده چې په نتیجه کې یوامنیتی ساتونکی وژل شوی اودوه نور ژوبل شوی دی.

په نښته کې یو قاچاقبر هم وژل شوی امنیتی پولیس وایی چې ددوی لاس ته دوه زره کیلو ګرامه مخدره توکی ورغلی دی او دوه زره نور مخدره توکی دقاچاقبرانو له یو موټر سره سوزیدلی دی ځایی چارواکی وایی جګړه تیره شپه دهیواد پروخت پرلسو بجو باندې دهلمند ولایت په ګرشك ولسوالی کې هغه مهال رامنځته شوه ۴مخ

جلوگیری از ورود خبرنگاران

در حالیکه دهاتن از دکتوران و کارکنان صحی سراسر کشور در کابل گردهم امده اند تا در اجلاس وسیع مسایل مربوط به صحت عامه در کشور را مورد بحث قرار بدهند به گفته رادیو ازادی وزیر صحت عامه کشور از ورود خبرنگاران رادیو ازادی به محل برگذاری این اجلاس جلوگیری کرده است برگذار کننده اصلی این گردهمایی اتحادیه سراسری دکتوران کشور است مسولان این اجلاس گفته اند که بحث های اساسی این نشست روی چگونگی بهبود بخشیدن به وضعیت صحی در این کشور متمرکز بود اما عدم ورود خبرنگاران رادیو ازادی به این اجلاس شنوندگان را از دسترسی به نظارت کارکنان صحی این کشور گفته میشود که با مشکلات زیاد مواجه اند محروم ساخت در کشور اکثر مردم به خدمات درست صحی دسترسی ندارند و به نظر میرسد مسوولان وزارت صحت عامه کشور نیز تصمیم گرفته اند تا مشکلات فعلی مردم این کشور همچنان پوشیده بماند.

وقوع انفجار یک کشته و سه تن را مجروح کرد

به تعقیب حملات هفته گذشته علیه نیروهای بین المللی کمک به امنیت روز جمعه نیز از اثر وقوع یک انفجار در جنوب شرق کابل یک سرباز پرتگالی کشته و سه نفر دیگر از نیروهای واکنش سریع ایساف مجروح شده اند سخنگوی نیروهای بین المللی کمک به امنیت واقعه انفجار را که در اثر ان یک سرباز ایساف بقتل رسیده تائید کرد او گفت زخمی ها و فرد کشته شده به شفاخانه این قوا در کابل انتقال داده شده اند. ص۴

دماینونو شنډول

پرون دننګرهار دسره رود په ولسوالی کې دپولیسو لخوا یو ښخ شوی ماین کشف او شنډ کړی شو دغه راز په نوموړی ولایت کې دچپرهار په لاره هم دوه نور ماینونه کشف اوله منځه یوړل شول دننګرهار دامنیې قوماندانی ویاند سید غفور نوموړی پیښې تایید او زیاته یې کړه چې دچپرهار ددولت زیو په سیمه کې څلورم ماین دماین پاکی دموسسې دموټرو دکتار دتیریدو وروسته وچاودید چې کوم مرګ ژوبله پکې نه ده رامنځ ته شوې په دې وروستیو ورځو کې دهیواد په زیاتو برخو کې ماینونه ځای پر ځای شوی او چاودلی وو آند زیاته مرګ ژوبله هم پکې رامنځته شوې ده.

په ننګرهار کې په ماشومانو شاقه کارونه

دماشوم نړیواله ورځ سږ کال په داسې مهال کې رارسیږې چې دبشر د حقوقو دخپلواك کمیسیون سیمه ییز دفتر په جلال آباد کې ددې ورځې دلمانځلو پر مهال د دغه ولایت په ځینو سیمو کې دماشومانو د شاقه کارونو خبر داری ورکړی په ننګرهار کې دیادشوی دفتر مشر جانداد سپین غر په وینا ددوی دمعلوماتو له مخې په ختیځ کې دماشومانو په ښوونه او روزنه کې که څه هم زیاتوالی راغلی خو ورسره ګڼ شمیر ماشومان او تنکی ځوانان دخپلو کورنیو لپاره په سختو شاقه کارونو بوخت دی هغه وویل په دې اړه بې دماشومانو لپاره دملګرو ملتونو دنړیوال صندوق یونسف او دماشومانو دساتنې اداري سیف ده چلدرن ته خپلې اندیښنې وړاندې کړی دی جانداد سپین غر وویل له دولت نه غوښتنه کوی چې دبشر حقوقو د نړیوالې اعلامیې په پام کې نیولو سره هغه ډول یې چې ژمنه کړی دماشومانو حقوقو ته پاملرنه وکړي.

تشکیل پارلمان، پایان یک بحران یا اغاز بحران تازه؟

محمد بشیر "هاتف"

ناگفته پیداست که هیچ نظامی بدون داشتن قوای سه گانه(مقننه، قضائیه واجرائیه) نمیتواند از شناختی به عنوان یک دولت برخور دار باشد. نبود یکی از قوه های یادشده روند پیاده شدن مردم سالاری را باکندی و رکود روبرو می سازد. پارلمان منحیث قوه مقننه یا قانونگذار نقش برازنده تری به تناسب دو قوه دیگر در امر تحقق دموکراسی دارد زیرا از یک طرف مردم را از راه انتخاب نماینده های شان در میز تصمیم گیری پیرامون زندگی سیاسی، اجتماعی و اقتصادی جامعه می نشاند و از سوی دیگر با کنترول و بررسی کار کرد های حکومت، نخواهد گذاشت تا امور مربوط به بازسازی سیاسی اقتصادی و اجتماعی کشور دستخوش کج روی ها شده ونتایج ناگواری را ببار اورد، مردم افغانستان با این اندیشه بی صبرانه انتظار داشتند تا شکل گیری پارلمان به بحران کمبود مرجع حساب گیر قانونگذار و حساب ده به مردم پایان داده از خود سری ها و سو استفاده ها جلو گیری نماید. زیرا مشکل اساسی در بیشتر از سه سال گذشته این بود که ملت درحاشیه قرار داشته و تصمیم گیری های سیاسی را محافل غیر ملی انجام میداند. همان بود که تصامیم سیاسی خواست مردم را بر نیاورده و نارضایتی ها را بیشتر دامن میزد.

به هر حال وقتی حدود چهارده ماه قبل تاریخ رای دهی برای انتخاب نماینده های مردم به پارلمان یا شورای ملی اعلان گردید، مردم با شورو شعف تمام انرا استقبال نموده و غرض شرکت درین انتخابات امادگی داشتند زیرا انجام انتخابات و حضور نماینده های راستین مردم در قوه مقننه میتوانست سرچشمه برای روند اصلاحات و مردم سالاری در نظام باشد اما از همان روز های نخست که اغاز گر پروسه انتخابات پارلمانی بوذ تدابیری بکار بسته شد که از رغبت مردم به شرکت درین انتخابات کاسته شود.

دفتر مشترک انتخابات با تصویب لایحه ای حدود مصارف در پروسه کمپاین انتخاباتی را برای نامزدان مشخص نموده و اعلان داشت که هر کاندید پارلمان بیشتر از ۷۰۰۰۰۰ و هر کاندید شورای ولایتی بیشتر از ۳۵۰۰۰۰ افغانی مصرف کرده نمیتوانند اما کاندیدانی بودند که بیشتر از ۱۰۰۰۰۰۰ افغانی را تنها صرف مخارج تهیه پوستر های بزرگ نموده و انها را در نقاط مزدهم شهر قرار داده بودند که مسوولان دولتی و دفتر مشترک انتخابات همه روزه شاهد ان بودند. همچنان پروسه توزیع پول از جانب کاندیدان متمول برای مردم همه روزه جریان داشته و در ضیافت های بزرگ، تحایف مادی نیز توزیع میگردید. بدین ترتیب شک و تردید ها نیز روز تا روز نیرو گرفته و مردم ارام ارام به نتایج انتخابات بی باورشدند.

۲۷سنبله یا روز انتخابات زمانی فرار رسید که علاقه مردم به دلسردی جا داده بود و در تمام ولایات کشور حدود چهل در صد ۴۰% از مردم به پای صندوق های رای دهی رفتند.

چون پروسه شمارش ارا اغاز یافت و تزویر های اشکار در ان به چشم خورد قسمت بیشتری از کاندیدان و حمایه کنندگان انها در میان مردم نخست به شکایت و بعداً به اعتراض و تظاهرات دست زدند اخذ رشوه و غلط شماری عمدی در پروسه شمارش انقدر هویدا بود که هیچ فرد ملت از ان نا اگاه نیست.

بدین ترتیب از چهل در صد مردمی که در رای دهی شرکت جسته بودند، بیشتر از نصف ان نیز به ناراضیان پیوست.

از جانب دیگر وقتی به ترکیب پارلمان نظر افگنیم چهره هایی در ان گردهم امده اند که در تمام مسایل مربوط به حیات سیاسی، اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی کشور با هم اختلاف نظر دارند و بدین ترتیب پارلمان در داخل خود نیز دچار بحران عدم توانمندی برای حل مسایل در پیش خواهد بود.

با این بررسی فشرده خواسته و یا ناخواسته با این پرسش روبرو می شویم که پارلمان موجود میتواند به بحران موجود در کشور پایان دهد؟

جواب روشن است زیرا ازیک طرف پارلمان صلاحیت تصمیم گیری پیرامون مسایل در پیش رو را از لحاظ ترکیب نخواهد داشت و از سوی دیگر نمایندگی از حدود هفتاد فیصد مردم را در تصمیم گیری های سیاسی با خود ندارد.

بدین ترتیب نه تنها پارلمان بلکه نظام موجود با در نظر داشت فیصدی بلند نا رضایتی در میان مردم نخواهد توانست نظامی دارای پایه های وسیع مردم می باشد. لذا تشکیل پارلمان به معنی پایان بحران قبلی نه بلکه اغاز بحران های تازه خواهد بود.

ازاد بازار او خصوصی سکتور باید د څارنی او کنترول لاندی وی

نابلد

نن سبا د نړی په اکثره هیوادونو کې خصوصی سکتورونو ته د کار او فعالیت په برخه کې د اسانتیاوو د برابرولو اوددغو سکتورونو د پراختیا پر بنسټ ازاد بازار دومره وده او پراختیا موندلی ده چې د وروسته پاتو هیوادونو پاملرنه یې ځانته اړولی ده. د خصوصی سکتورونو او ازاد بازار ودی او پراختیا د نړی هیوادونه هم په اقتصادی برخو او اړیکو سره نږدی کړی دی او دغه حرکت ښه په توندی سره روان دی.د ازاد بازار یوه مهمه ځانګړتیا داده چې نرخونه باید د عرضی او تقاضا په طبعی حرکت کې وټاکل شي او ورځ په ورځ د ازاد بازار له لاری وړاندی کیدونکی توکی د خپلی زیاتوالی پر بنسټ د نرخونو په کموالی سره وړاندی کیږی او د ازاد بازار په دننه کې یوه سالمه سیالی راځی چې دا سیالی د خلکو په ګټه وی. که چیری کله کله د نرخونو د اوچتوالی په برخه کې څه موقتی بدلون راشی هغه د ډیر وخت لپاره پایښت نه شی کولای . اوس چې مونږ له دوو ستونزو څخه راوتونکی یو او هغه له یوی خوا وروسته پاتی والی او له بلی خوا جګړه ییز شرایط دی او لدی سره سم مو په هیواد کې د خصوصی سکتورونو د پیاوړتیا او هغوی ته د هر ډول امکانی اسانتیاوو د برابرولو تکل کړی دی او زموږ په هیواد کې خصوصی سکترونه نوی په پښو ودریږی خو زموږ د خصوصی سکتورونو او ازاد بازار په وړاندی ځینی د لیدلو وړ ستونزی موجود دی چې له یوې خوا د خصوصی سکتور د پراختیا په لاره کې خنډونه رامنځته کوی او له بلی خوا ازاد بازار بد ناموي. د خصوصی سکتورونو څښتنان له یوی خوا زموږ په هیواد کې سره لدی چې دولت ورته اسانتیاوی برابروی د امنیتی ستونزو له امله زړه نه ښه کوی چې خپلی پانګی دلته په کار واچوی اوتولیدی پروژی جوړی کړی ځکه چې تر اوسه پوری پانګوال او خلك په امنیت باندی ډاډه نه دی تروریستی او تخریبی عناصر ورځ په ورځ راز راز ګواښونه او اندیښنی رامنځته کوي.

له بلی خوا ګاونډی هیوادونه هم زیار باسی چې د خپلو تولیداتو لپاره په افغانستان کې یو مصرفی بازار ولری زموږ په هیواد کې د خصوصی سکتورونو او تولیدی پروژو په پیاوړتیا کې د خپلو تولیداتو د وردیدلو د مخنیوی په خاطر یوه ناسالمه فضاء رامنځته کوي او په موقتی ډول زموږ تر تولیداتو د خپلو بیه کښته کوي پدی ډول کولای شی چې زموږ تولیدی پروژی له یو مخه له ودریدلو سره مخ کړی په داسی شرایطو کې زموږ د تولیدی پروژو د تولید لپاره هغه وخت بازار پیدا کیدای شي چې ګمرکی محصول د بهرنیو تولیداتو په واردیدو کې زیات شی چې واردوونکی سوداګر د خپلو ګټو په خاطر ورته حوصله نشی کولای له دولت څخه د محصول د کمولو غوښتنه وړاندی کوی او ګمرکی اداری مجبوروی چې محصول کم کړی او پدی ډول زموږ تولیداتو ته تکان ورکوي.

ازاد بازار هم له ستونزو سره مخامخ دی او دا ستونزی یوازی د مصرفوونکو په زیان تمامیږي. ځکه چې دلته د عرضی او تقاضا ترمنځ د نرخونو د کنترول او یا ټیټولو په برخه کې طبعی حرکت وجود نه لری دلته د سوداګری لاس تل په حرکت کې دی نرخولو نه په خپله خوښه لوړیږي کورنی سیالی ورسره نشته خلك مجبور دی چې د خپلو اړتیاوو د له منځه وړلو په خاطر په هره بیه چې وی جنس تر لاسه کړی او هغه هم پداسی حال کې چې عواید ورته نه لری طبیعی ده چې د عوایدو د لاسه راوړلو لپاره اختلاس او اداری فسادونه وده کوی او له کنترول څخه ووځی لکه چې وتلی دی.

نو پداسی حالاتو کې زموږ په هیواد کې داسی ازاد بازار چې نرخونه په خپل سر لوړیږي او بیا د بیی کښته کیدلو لپاره هم څوك کار نشی کولای طبیعی حرکت په کې وجود نه لری ایا داسی سیستم د خلکو په ګټه بللی شو؟ دا داسی پوښتنه ده چې اندیښنی یې راپورته کړی دی.

ازاد بازار که چیری د سوداګرو او پانګه والو په خوښه ازاد پریښودل شی څرګنده ده چې په ټولنه کې به ورځ په ورځ د بدبختی شیبی رامنځته کړی او یو شمیر به د ټول هیواد اقتصاد په لاس ولری ان چې واړه پانګوال به د لویو خوراك شي. که چیری د خلکو ریښتینی خدمتګار دولت وی داسی دولت دنده لری چې دغه انحصاری حرکتونه ختم کړی ازاد بازار کنترول او تر کلکی څارنی لاندی ونیسی او که نه، زموږ په هیواد کې به ازاد بازار په یو فاسد ازاد بازار بدله شی او په نتیجه کې به بی امنی رامنځته شی او قانونیت به ختم شی.

متصدي: ناصر بشر

راتلونکی د ځوانانو ده

د انجونو دځان سوځولو د پیښو ځیني علتونه

موږ په هیواد کې وروسته پاتې والی او تیرو جګړو له امله له زیات شمیر بدبختیو سره اخته شوي یو ددغو بدبختیو زیاتې ناوړې اغیزې ځوانانو ته متوجې دی.

زیاتې انجونې ددغو بدبختیو ښکار شوی او په کې اخته دي.

انجوني له دغو ورپیښو ستونزو او بدبختیو سره دلاس ګریوان کیدو په صورت کې تر عصبي فشار لاندې راځی او دځان وژنو په کار لاس پورې کوی چې موږ په هیواد کې دځان وژلو ډیرې پیښې په هرات کې لیدلای شو چې زیاتو یې په خپل ځان باندې دتیلو په اچولو او ځان ته داور په ورته کولو لاس پورې کړی او ډیرې یې وژل شوی دي د بیلګې په توګه:

لیلا پنځه میاشتې وروسته هغه مهال چې ددولس کلنی په منګ واده شوه په ځان یې پترول وشیندل او ځانته یې اور واچاو. هغې دروغتون په بستر کې په پس پس ویل هغې غوښتل ځان وسوځوي.

ځکه دهغې ۱۷ کلن میړه تل مدام هغه وهله ټکوله.

هغې وویل: زما میړه ما بدې ایسې او تل مې وهي زه د مور کور ته وتښتیدم خو ورور مې په زوره بیرته دمیړه کور ته واستولم. د هغې بدن په سلو کې **۳۵** سوځیدلی او د خبرو پر مهال له خوځیدو پاتې شوې وه.

دهغې **۴۵** کلنه مور چې د نوم دنه لیکلو غوښتنه یې کوله وویل هغې نه شو کولای د میړه کورته دهغې دلیږلو مخه ونیسي خو له اوښکو په ډکو سترګو یې آی ډبلیو پی ار ته وویل: زه به هیڅکله هم خپله بله لور په لږ عمر واده نه کړم.

دنوی اساسی قانون له مخې دواده قانونی عمر د نجونو ۱۶ او دهلکانو لپاره ۱۸ ټاکل شوی دی خو په قانون باندې زیاتره وختونه سترګې پټیږي او داسې رپوټونه لاس ته راغلي دي چې په افغانستان کې په سلو کې **۵۷** ودونو کې دنجونو مرګ له ۱۶ کلونو څخه ټیټ وی.

هغه مهال چې د سپتمبر دمیاشتې په یو سهار کې دآی ډبلیو پی ار خبریالانو دهرات دښار له یوې حوزوی روغتون څخه لیدنه کوله، لیلا ددریو تنکیو نجونو په ډله کې وه چې ځانونو ته یې ا ور اچولې و.

هغه دعمر په شپږ کلنی کې دخپل ورور دواده په بدل کې کوژده شوې وه ځکه ورور یې دواده لپاره داړتیا وړ پیسې نه درلودې چې خسر یې غوښتنه کوله. ددې معاملې په لړ کې باید لیلا دنوموړی نجلی له ځوان ورور سره واده کړی وای.

دا د هغې مشر ورور و چې هغه یې دخپل بدغوني میړه کور ته په زور واستوله.

دروغتون له ځانګې (وارد) څخه بهر د دویم پوړ په دالان کې د ۱۷ کلنی فاطمی له خولې دسوځیدو له امله ورو ورو زیږوی ختلو یو کال دمخه هغه هم د (واده بیه) وه چې خپل ورور یې ځانته دواده کولو په بدل کې ورکړی وه.

دهغې دواده له یو څو میاشتو تیریدو وروسته هغې تل دخپل میړه له لاسه وهل خوړل چې دهغې په وینا دهغې میړه په یوې بلې نجلی باندې مین و. مخکې له دې چې ناڅاپه یې له خولې ژړا غږ پورته شو وویل: ما خپل ځان ځکه وسوځولو چې دتل لپاره هوسا او سم زما ګیده وسیځي.

دهغې اوږده خڅ پڅ تورو ویښتان دهغې په مخ پراته و و دډاکترانو د وینا له مخې دهغې په سلو کې ۴۰ بدن سوځیدلی دی.

هغې وویل ما ځکه دا کار وکړ چې بله چاره مې نه لرله.

هرات په هیواد کې دځان سوځولو لوړه کچه لري دلته زیات شمیر ډاکتران په دې اند دی چې دا دود دلته په ګاونډی هیواد ایران کې ددې عمل دسرته رسولو تر اغیز لاندې راغلی دی.

دنوموړی روغتون دسوځیدلو دځانګې مشر ډاکتر محمد همایون عزیز، وویل: په دې ولایت کې د ۴۰۰ تنو په شاوخوا کې خلك، چې زیاتره یې ځوانې نجونې وی. د ۲۰۰۲ کال راهیسې دځان دوژلو لپاره ځانونه ته اور اچولي دی. نوموړی زیاته کړه چې له دې ډلې څخه په سلو کې د ۶۰ په شاوخوا کې مړې شوې دی.

هغه وویل زیاتره داسې پیښې په هغو کورنیو کې رامنځته کیږي چې په ایران کې یې د کډوالی ژوند تیر کړی وی.

هغه وایی: دا چې ولې هغوی ځانونه وژنی یو شیمر لاملونه شته دبیلګې په توګه دزده کړې ټیټه کچه ناوړه اقتصادی حالت، جبری ودونه. دفلمونو ننداره کول او بیا هغه دژوند له خپل حالت سره پرتله کول.

دهرات ولایت دښځو دچارو رئیسه سیما شیر محمدی دتنکیو پیغلو د ځانونو دسوځولو بل لامل جبری ودونه بولي.

نور لاملونه هم شته سیما شیر محمدی وویل په یوې کورنی کې یوې ۱۴ کلنې نجلی غوښتل دواده په یوې غونډی کې دلنډو لستونو کمیس واغوندی او په کور کیې هم دغه جامې په ځان کړی دهغې کورنی. هغه دې ښکار ته پرې نه ښوده له هغې وروسته هغې ځان ته اور واچاوه.

هغې زیاته کړه دتنکی عمر په منګ ودونه چې میړونه دځوانو نجونو هیلې نه شي پوره کولای دې زده کړې ټیټه کچه او جبری ودونه چې دمیندو اوپلرونو یو ظلم بلل کیږي یو شیمر ځوانې نجونې دځان له منځه وړل یوه چاره بولي.

په هیواد کې په دې اړه سمه شمیره نه شته چې څومره نجونو خانونه سوځولی دی زیاتره کورنی. هغه ځانته یو شرم بولی او هڅه کوی چې دسوځیدو لامل پټ پاتې شي او هغه دپخلی یوه پیښه څرګندوی ځان وژنه کله ناکله مذهبی لاملونه هم لري.

دهرات په ولایت کې دبشری حقوقو دخپلواك کمیسیون دساحوی دفتر رئیس قاضی غلام نبی حکاك وویل چې موږ هڅه کړې چې دځان له منځه وړلو دپیښو له زیاتیدو سره مقابله وکړو.

حکاك وویل: موږ په ښارونو کلیو او باندو کې دناریننه او ښځو لپاره یو شمیر ورکشاپونه جوړ کړی او دجوماتونو دملا اماماتو په مرسته مو داسلامی اصول له مخې دښځو دحقونو په پراخولو کې هڅه کړی ده. نوموړي زیاتوی موږ دولی ځان وژنه تر سرلیك لاندې یو کتاب هم خپور کړی دی او څو علمی سمینارونه مو جوړ کړی دی.

سیما شیر محمد وویل: دښځو دچارو ریاست هڅه کړی له ډله ییزو رسنیو څخه ګټه واخلی او له خطیبانو څخه یې غوښتي دي چې په خپلو ویناګانو کې دتیت عمر دودونو دمخینوی په هکله تبلیغات وکړی خو لا زیات نور کار ته اړتیا لیدل کیږي.

نوموړې ځانګې ښځو ته دپرتو ستونزو او دځان دوژلو دلاملونو په هکله یو رپوټ خپور کړی دی او دښځو چارو وزارت کې یوه چارواکی فوزیه وایي: هغه میرمنې چې ځان ته اور اچوی. د پخوا په پرتله ټیټه شوې ده هغې وویل دهیواد په کچه دځان دسوځولو **۵۷** پیښو رپوټ په ورته موده کې لاس ته راغلی دی هغې له زیاتې تبصرې نه ډډه وکړه او ویې ویل موږ دا شمیره له انټرنټ څخه لاس ته راوړې ده او هغه سمه ده.

دښځو دچارو له وزیرې مسعودې جلال سره دمرکې شونتیا ترلاسه نه شوه چې داوټ لوك په اوونیزه کې دهغې له خولې داګست په میاشت کې لیکل شوی وه په ۲۰۰۴ کال کې ۷۰۰ تنو میرمنو دځان وژنې هڅه کړې وه.

دجرمنی دیوې موسسې میدیکا موندیال یوې چارواکې سنجیې بهګام وویل نوموړې موسسې هر کال ټول افغانستان کې دځان سوځولو او نور ځان وژلو **۵۰۰** پیښې ثبتې کړی دی خو هغې وویل چې په زیاترو پیښو کې دشرم په خاطر دکورنیو له خوا پرده اچول شوې د پیژندل شویو پیښو نیمایی یې دښځو د ځان دسوځولو پیښې وی او په سلو کې د ۶۰ او ۷۰ ترمنځه مړې شوی دی نورې ځان وژنې په بیلابیلو ډول ترسره شوی دی.

دکابل داستقلال روغتون دسوځیدلو ناروغانو مرکزی روغتون رئیس سید حسین کامل وویل د روغتون په سلو کې ۴۰ برخه دسوځیدو پیښو ته ځانګړې شوې ده داګست په میاشت کې هلته **۵۵۸** پیښې رسیدلی چې په سلو کې پنځه (۲۸) ناروغان یې میرمنې وی چې دځان دسوځولو په واسطه یې دځان وژنې هڅه کړې وه.

په نیشو داخته ځوانانو مخنیوی څنګه کیدای شي؟

عادت اونیشه له یو بل سره توپیر لري عادت هغه حالت ته وایی که چیرې پرېښودل شي وجود ته څه زیان نه شي رسولی نیشه هغه حالت ته وایی چې په رامنځته کیدو سره یې **سمږی** له ځان او نړۍ څخه بې خبر کیږي په نیشو اخته کسان تل دخپلې نشې په فکر کې وی داسې کسان په حقیقت کې د ژوند په هکله فکر نشي کولای بلکې دخپلې نشې لپاره دنیشه توکو دلاسته راوړلو په فکر کې وی اوس زموږ په ټولنه کې زیات ځوانان په نیشو باندې اخته شوی دی. او په نیشو باندې د اخته کیدو بیلابیل لاملونه موجود دی او یو له دغو لاملونو څخه خپلو اولادونو ته دکورنیو نه پاملرنه ده.

نه پاملرنه په اولادونو کې دکمزوری احساس پیاوړې کوی او تل داسې ځوانان له خپلو پلرونو او میندو څخه ګیله من وی او یو ډول روحی نارامی ورته پیدا کیږي او ورو ورو دنیشې لورې ته حرکت کوی.

داسې ځوانان له دې امله چې دڅارنې او کنترول په برخه کې دکورنیو له خوا ورته څه پاملرنه او توجه نه وی له نااهله کسانو اویا که وو ایو له نیشه یي کسانو سره یې مخه زیاتیږي او هغوی هم دځان په څیر دنشه یې ملګرو دپیدا کولو په لټه کې وي.

زموږ په ټولنه کې نن سبا په نیشو اخته ځوانان زیاتره په هغو سیمو کې زیات دی چې هلته دکوکنارو او چرسو کارو بار زیات وی دڅیړنو له مخې له ۱۵ - ۹۵ کلونو ترمنځه ځوانان په نیشو اخته دی په دې ټول ۹۰ فیصده هیوادوال په مجموع کې په هیرویینو معتاد دی ۱۰ فیصده په تریاکو او چرسو معتادځانان دي.

دمعتادو هیوادوالو په شمیره کې زیات یې ځوانان دی چې دکورنیو له خوا تر څارنې او کنترول لاندې نه دی نیول شوی که څه هم اوس دولسمشر دفرمان له مخې لږ و ډیر دکوکنار کر کم شوی دی خو ویلای شو چې په نیشو داخته کسانو په شمیره کې پاملرنې بدلون نه دی راغلی.

موږ په نیشو باندې داخته کسانو شمیر هغه وخت راکمولی شو چې له یوې خوا په ځوانانو باندې دکورنیو څارنه او کنترول زیات شي او له بلې ځانګړې کلینکونه لا نور هم زیات شي چې وکړای شي په نیشو اخته کسان تر تداوی لاندې ونیسي او له هغوی سره خبرې وشي او دنیشو پرېښودلو ته یې وهڅوی که چیرې ددغو دوو لارو څخه په نبشو د اخته کسانو مخه ونیول شي داسې کسان به دخپلې کورنی او ټولنې د خدمت لپاره جوګه شي او داسې کسان به نور ځوانان هم له ځان سره دملګری کړی او دا کار به دټولنې لپاره په راتلونکي وخت کې له ستر سرخوږي خلاص وي

حمایت بوش از طرح انتقال برنامه غنی سازی ایران به روسیه


AP

رئیس جمهور آمریکا به ولادیمیر پوتین، رهبر روسیه، گفته است که آمریکا مایل است طرح پیشنهادی مسکو برای سازش بر سر برنامه اتمی ایران را، که براساس آن برنامه غنی سازی اورانیوم این کشور به روسیه منتقل خواهد شد، بپذیرد.

ایران تاکنون به این طرح پاسخ مثبت نداده است.

استفان هدلی، مشاور امنیت ملی جورج بوش گفت که رئیس جمهور آمریکا این طرح را در جریان دیدار با آقای پوتین در حاشیه اجلاس آسیا - اقیانوسیه پذیرفته است.

به گفته آقای هدلی، که نخستین مقام آمریکایی است که علنا درباره این طرح صحبت می کند، پیشنهاد روسیه از حمایت بریتانیا، فرانسه و آلمان که هدایت مذاکرات با ایران را به عهده داشته اند برخوردار است و آقای بوش آن را "یک ایده خوب و راهی بالقوه برای خروج" از بن بست تلقی می کند.

براساس طرح پیشنهادی روسیه، تهران اجازه خواهد یافت فراوری اورانیوم خام و تبدیل آن به گاز موسوم به "یو اف ۶" را ادامه دهد، اما از حق تزریق این گاز به سانتریفوژها برای غنی سازی محروم خواهد شد و در عوض این بخش از عملیات به روسیه انتقال خواهد یافت.

دولت ایران بارها تاکید کرده است که تحت هیچ شرایطی از دستیابی به چرخه کامل سوخت هسته ای، که از حقوق این کشور براساس پیمان منع گسترش سلاح های هسته ای است، صرف نظر نخواهد کرد.

آقای هدلی گفت هرچند ایران ابتدا در حرکتی "نه احتمالا غیرمنتظره" این پیشنهاد را رد کرده است اما "به عقیده ما این موضوع، به معنی منتفی شدن این پیشنهاد نیست. این موضوعی است که به آن بازخواهیم گشت."

وی افزود: "امیدواریم که ایران به مرور زمان متوجه محاسن این رویکرد شود و این پیشنهاد ممکن است راهی برای خروج (از بن بست) فراهم کند."

یک هیات بلندپایه روسی به سرپرستی ایگور ایوانف، رئیس شورای امنیت ملی این کشور، جمعه ۱۱ نوامبر به ایران سفر کرد تا بنا به گزارش ها برای قانع کردن ایران به واگذاری غنی سازی در خاک خود بکوشد.

البته آقای ایوانف دادن "پیشنهادی خاص" به ایران را تکذیب کرد اما پس از بازگشت به روسیه گفت گفتگوهای اتمی روسیه با ایران ادامه خواهد یافت که نشان از واکنش منفی ایران به چنین طرحی داشت.

مقام های آمریکایی روز جمعه به روزنامه نیویارک تایمز گفتند که هیات روسی در آن سفر موفق به جلب توافق ایران در این زمینه نشده است.

نیویارک تایمز به نقل از یک مقام بلندپایه آمریکایی که از وی نام برده نشد نوشت: "روس ها از خودداری ایران برای حرکت به سوی یک موضع ملایم تر خیلی خیلی سرخورده هستند."

نیکولای شینگاریوف، از سخنگویان دولت روسیه، کمتر از دو هفته قبل پس از فاش شدن طرح پیشنهادی روسیه در مطبوعات غربی گفته بود که کشورش این پیشنهاد را به تهران ارائه کرده است اما تهران بدان پاسخی نداده.

ایران و روسیه دارای روابط نزدیکی در زمینه های اتمی هستند و روسیه به ساخت نیروگاه اتمی بوشهر در ایران کمک می کند.

تلاش های دیپلماتیک برای حل مناقشه جاری بر سر برنامه اتمی ایران درحالی شدت می گیرد که شورای حکام آژانس بین المللی انرژی اتمی روز ۲۴ نوامبر طی جلسه ای. آخرین گزارش بازرسان آژانس درباره فعالیت های اتمی ایران را بررسی خواهد کرد.

کنفرانس کمک به زلزله زدگان پاکستانی در اسلام آباد

پاکستان میزبان کنفرانسی از کشورهای کمک دهنده به قربانیان زلزله اخیر این کشور است. هدف از برگزاری این کنفرانس بین المللی، جمع آوری پول و کمک به سه میلیون زلزله زده بی خانمان و بازسازی مناطقی است که در اثر زلزله ماه گذشته دچار ویرانی های گسترده شدند. وزارت امور خارجه پاکستان گفته است نمایندگانی از ۵۰ کشور جهان در این کنفرانس که در اسلام آباد، پایتخت پاکستان، برگزار شده، شرکت دارند. با آغاز کنفرانس، بانک توسعه آسیا وعده داد یک میلیارد دالر به صورت کمک و وام در اختیار پاکستان قرار دهد. برگزار کنندگان کنفرانس قصد دارند بیش از پنج میلیارد دالر برای بازسازی و کمک های امدادی جمع کنند. کوفی عنان، شرمنشی سازمان ملل متحد، هنگام افتتاح این کنفرانس گفت زلزله زدگان پاکستان نیازمند کمک های مداوم جامعه بین المللی هستند. سرمنشی سازمان ملل از کمک دهندگان خواست "بخشندگی بیشتری به خرج دهند و با میل و اشتیاق به زلزله زدگان کمک کنند." آقای عنان گفت رقم مورد نیاز به نظر رقم سرسام آوری می رسد. ما نیازمند بیش از پنج میلیارد دالر هستیم اما وقتی ابعاد فاجعه را در نظر بگیریم، این پول چندان زیاد نیست. پرویز مشرف، رییس جمهوری پاکستان نیز گفت اطمینان دارد که این کنفرانس آغازگر روند بهبود وضعیت مناطق زلزله زده پاکستان خواهد بود اگرچه این روند، روندی طولانی مدت است. پاکستان می گوید در زلزله کشمیر بیش از ۷۳ هزار نفر کشته شدند. این زلزله حدود ۳ میلیون بی خانمان نیز بر جای گذاشته است

آپک با تقاضای حل بن بست تجارت به کار خود پایان داد

رهبران کشورهای حاشیه اقیانوس آرام در پایان اجلاس مجمع همکاری های اقتصادی حوزه آسیا - اقیانوس آرام، آپک، در کره جنوبی گفتند حل موفقیت آمیز بن بست موجود در تجارت بین الملل برای رشد اقتصادی ضروری است.

در این مورد به نام هیچ کشوری اشاره نشده است اما خبرنگار بی بی سی در محل اجلاس آپک می گوید انتقاد آنها، آشکارا متوجه اصرار اتحادیه اروپا بر حفظ یارانه ها و تعرفه ها است.

رهبران آپک همچنین بار دیگر متعهد شدند که با گروه های تروریست مبارزه کنند و به تلاش برای از بین بردن سلاح های تخریب جمعی ادامه دهند.

علاوه بر آن، رهبران شرکت کننده در اجلاس آپک موافقت کردند که برای کاهش اثرات فجایع طبیعی همچون سونامی اقدام کنند. آنها طرحی را نیز در مورد آمادگی نسبت به شیوع آنفلوانزای مرغی در انسان تایید کردند.

در بیانیه نهایی اجلاس آپک به مناقشه مربوط به برنامه هسته ای کره شمالی اشاره نشده اما روه مو - هیون، صدراعظم کوریای جنوبی گفت ۲۱ کشور منطقه اقیانوس آرام خواستار پیشرفت جدی در مذاکرات بین المللی حل این بحران شده اند.

اجلاس دو روزه آپک در شهر پوسان که پایتخت باستانی کوریای جنوبی خوانده می شود، برگزار شد و در طول برگزاری آن، افراد معترض در خیابان های اطراف محل اجلاس، دست به تظاهرات زدند که روز جمعه میان پولیس و تظاهرکنندگان درگیری خشونت آمیزی رخ داد.

مجموعه اقتصادی ۲۱ کشور حوزه اقیانوس آرام از آمریکا تا جاپان و از استرالیا تا چین ۵۷ در صد اقتصاد جهان را در دست دارد.

AP

آغاز هفته حسابدهی...

برخی از کارشناسان افغان بر این باورند که اقدام دولت به حسابدهی، در ادامه تلاشها به منظور کم کردن از فشارهای پارلمان به دولت اجرا می شود.

در این حال سیف الدین سیحون، استاد اقتصاد در دانشگاه کابل، تاکید دولت به حسابدهی وزیران کابینه را "اقدامی نمایشی" در آستانه ایجاد رسمی پارلمان کشور می داند

وقوع انفجار یك کشته...

یک گروه امنیتی ایساف این منطقه را محاصره کرده و تحقیقات را در باره انفجار انجام میدهند تا حال معلوم نیست ایا این انفجار در نتیجه یک حمله صورت گرفته است ویا از قبل ماین تعبیه شده بود سخنگوی نیروهای بین المللی کمک به امنیت در افغانستان گفت هنوز زود است که روی چگونگی انفجار سخن گفت به گفته وی محل حادثه در محاصره یک تیم از نیروهای ایساف و نیروهای امنیتی افغان در امده است و تحقیقات در زمینه جریان دارد اقای المیز گفت در اطراف کابل نیز همانند سایر نقاط افغانستان سلاح و مهمات از گذشته موجود است که گاهی سبب بوجود امدن همچو حوادث میگردد نامبرده وضعیت امنیتی شهر کابل و اطراف این شهر را قناعت بخشی خواند او گفت که وضعیت امنیتی شهر کابل از اثر وقوع حوادث چند روز اخیر تغیر کلی امنیتی به چشم نمی خورد به گفته وی قوای ایساف در همکاری به نیروهای امنیتی افغان روی برنامه های بهتر سازی امنیت در شهر و اطراف کابل و دیگر نقاط این کشور کار میکنند.

په هلمند کی د پولیسو...

چې دیو راپور پر بنیاد باندې پولیسو دقاچاق کوونکو یو کاروان ته کمین نیولی دی جګړې یوساعت دوام درلود په جګړه کې دقاچاوړونکو یو موټر د دوه زره کیلو ګرامه تریاکو سره سوزیدلی او یو بل موټر چې ځیني سپکې وسلې هم پکې دی د ۲۰۰۰ کیلو ګرامه تریاکو سره دولتی ځواکونو ته په لاس ورغلی دی دهلمند د والی ویاند محمد علم علیزیي وویل چې دا په دې وروستیو کې تر ټولو مهمه جګړه وه چې له قاچاق کوونکو سره پیښه شوې ده البته تر دې وړاندې هم ورته پیښې شوی وی خو مرګ ژوبله به یې په خوا کې نه درلود د قاچاق کووکو درې نور موټرونه په تیښته بریالی شوی دی د یادولو وړ ده چې هلمند دهیواد له هغو ولایتونو څخه دی چې د قاچاق کوونکو لاره ورباندې ده اکثره وخت دنشه یي توکو قاچاق په همدغه لاره کیږي.

کنفرانس بین المللی...

اما سازمان ملل متحد امریکا و بریتانیا میگویند ادامه حمایت بین المللی از افغانستان حیاتی است سفیر بریتانیا در سازمان ملل متحد گفت: مناسبات جدید باید از حمایت نیرومند بین المللی به رهبری سازمان ملل متحد بر خوردار باشد جان بولتن سفیر ایالات متحده در سازمان ملل گفت ایالات متحده امریکا بر تشکیل کنفرانس در ماه جنوری در لندن برای پیشبرد نقش دایمی و بزرگتر سازمان ملل متحد در افغانستان تاکید داشته است. معاون سرمنشی سازمان ملل متحد در امور پاسداری از صلح گفت درمیان اعضا این هم فکری وجود دارد که سازمان ملل متحد باید نقش مهم و هماهنگ کنده در مرحله بعدی را ایفا کند.

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجي مير احمد خانه نمبر۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یك شماره ۳ افغانی
ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com

ACKU